# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**19میزان_سال 1403**





# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

# فهرست مطالب

عنوان — صفحه


د اروپايي ټولنې سفيرې د مهاجرينو چارو وزير سره وليدل ---------- 1

د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت سرپرست د افغانستان لپاره د اروپايي ټولنې له سفيرې سره وکتل ---------- 2

رئیس مهاجرین ولایت لغمان، با مسوولین کمیشنری عالی ملل متحد در زون شرق دیدار کرد ---------- 3

ننګرهار کې تر سلو زياتو کورنيو ته مرسته وويشل شوه ---------- 3

افزایش محدودیت‌ها در برابر مهاجران افغان در پاکستان و ایران ---------- 4

تخار ولايت کې ۱۷۵ کورنيو سره مرسته وشوه ---------- 6

۳۰ تن از افغانهای محبوس در پاکستان، از حبس آزاد شدند ---------- 7

کم سنه کډوال په پاريس کې: له کمپونو څخه «په سيستماتيکه توګه» د مهاجرو ايستل ادامه لري ---------- 7

اتريش د پناه غوښتونکو په اخراج کې د سختۍ غوښتنه کوي ---------- 11

اروپايي محکمه: قبرس د دوو مهاجرو حق نقض کړی دی ---------- 12

"د پام وړ فشار او د سپکاوي احساسات" ---------- 13

د ۲۲۰۰۰ يورو تاوان ---------- 13

یونان: د اونۍ په پای کې تر ۲۳۰ زيات کډوال کرېټ ټاپو ته رسېدلي دي ---------- 13

3مهاجر غیر قانونی در سواحل یونان غرق شدند ---------- 15

5نفر که به ساحل شنا کردند گزارش دادند که 33 مسافر در قایق بودند ---------- 16

# متن کامل اخبار

## د اروپايي ټولنې سفيرې د مهاجرينو چارو وزير سره وليدل

د وزارت ويب سايت



په افغانستان کې د اروپايي ټولنې سفيرې آغلې ويرونيکا د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو له وزير الحاج خليل الرحمن حقاني سره دده د کار په دفتر کې وليدل.

په ناسته کې په پاکستان او ايران کې د مهاجرينو په ستونزو، د جرمني او نورو اروپايي هېوادونو لخوا د مهاجرينو د جبري ويستلو، يا نورو هېوادونو ته د ليږدولو، د داخلي بېځايه شوو د پايدار ادغام او هغوی ته د مرستو جلبولو په اړه خبرې وشوې.

د مهاجرينو چارو وزير د مهاجرينو په برخه کې د اروپايي ټولنې د مرستو مننه وکړه او زياته يې کړه، چې د مهاجرينو په نوم کېدونکې مرستې دې مستقيما مهاجرينو ته ورکړل شي او بايد په اساسي کارونو، سرپناه، کاري فرصتونو او اقتصادي ملاتړ کې مصرف شي.

آغلې ويرونيکا د مهاجرينو ستونزو ته رسيدګي د ټولو ګډ مسوليت وباله او ويې ويل :مونږ د مهاجرينو او نورو اړمنو د لاسنيوي لپاره د ملګرو ملتونو له مرستندويه ادارو سره ۱۲۵ ميليونه يورو مرسته کړې ده او د کال ترپايه به ۳٦ ميليونه نوره مرسته هم ورسره وکړو.

دواړو لوريو د يوه ګډ ميکانيزم رامنځته کولو لپاره د ګډې تخنيکي کمېټې په جوړولو توافق وکړ.



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook**: *https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

## د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت سرپرست د افغانستان لپاره د اروپايي ټولنې له سفيرې سره وکتل

آژانس اطلاعاتی باختر



د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت سرپرست خليل الرحمن حقاني نن په خپل کاري دفتر کې په افغانستان کې د اروپايي ټولنې سفيرې ويرونيکا سره وکتل.

ياد وزارت د يوې خبرپاڼې په خپرولو سره ويلي چې په دې کتنه کې په پاکستان او ايران کې د مېشتو افغان کډوالو په ستونزو، د جرمني او نورو اروپايي هېوادونو له لوري د کډوالو د جبري اېستلو، يا نورو هېوادونو ته د لېږدولو، د داخلي بېځايه شويو د دايمي مېشتېدنې او هغوی ته د مرستو جلبولو په اړه خبرې وشوې.

د سرچينې د مالوماتو له مخې ښاغلي حقاني په دغه کتنه کې د کډوالو په برخه کې د اروپايي ټولنې د مرستو مننه وکړه او زياته يې کړه، چې د کډوالی په نوم کيدونکې مرستې دې مستقيما کډوالو ته ورکړل شي او بايد په اساسي کارونو، سرپناه، کاري فرصتونو او اقتصادي ملاتړ کې مصرف شي.

په ورته وخت کې د افغانستان لپاره د اروپايي ټولنې سفيرې ويرونيکا د کډوالو ستونزو ته رسېدنه د ټولو ګډ مسوليت وباله او ويې ويل چې (مونږ د کډوالو او نورو اړمنو د لاسنيوي لپاره د ملګرو ملتونو له مرستندويه ادارو سره ۱۲۵ ميليونه يورو مرسته کړې ده او د کال ترپايه به ۳۶ ميليونه نوره مرسته هم ورسره وکړو.(

د يادونې وړه ده، چې دواړو لورو په دغه کتنه کې د يوه ګډ ميکانيزم رامنځته کولو لپاره د ګډې تخنيکي کمېټې په جوړولو توافق وکړ

## رئیس مهاجرین ولایت لغمان، با مسوولین کمیشنری عالی ملل متحد در زون شرق دیدار کرد

ویب سایت سایت



**مولوی غلام رحمن بلال، رئیس امور مهاجرین وعودت کننده گان ولایت لغمان، با مسوولین مصونیت و برنامه های زون شرق کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان، به تاریخ ۱۷ میزان در دفتر کارش دیدار کرد.**

**در این دیدار در مورد مرکز اجتماعی که توسط کمیشنری برای جوانان عودت کننده و بیجاشده داخلی ساخته شده است، بحث و تبادل نظر صورت گرفت.**

**مسوولان کمیشنری در زون شرق از همکاری ریاست مهاجرین قدردانی نموده و معلومات پروژه های انکشافی و غیر انکشافی انجام شده در سال گذشته و سال جاری را با رییس مهاجرین شریک ساخت.**

**رییس مهاجرین لغمان از سفر آنان به لغمان ستایش کرده مشکلات خانواده های بیجا شده و عودت کننده را با آنها در میان گذاشت و از آنها خواست تا برای کمک به این خانواده ها همکاری بیشتری داشته باشند.**

## ننګرهار کې تر سلو زیاتو کورنیو ته مرسته وویشل شوه

د وزارت ویب سایت




**په ننګرهار ولایت کې پرون د تلې اولسمه له ۱۰۸ راستنو شویو، بېځایه شویو او زیانمنو شویو کورنیو سره نغدي مرسته وشوه. دغه کورنۍ مخکې د دغه ولایت د مهاجرینو چارو ریاست له خوا اړمنې پېژندل شوې وې او د NRC موسسې له لوري څلویښتو کورنیو هرې یوې سره ۲۰ زره ۳۷۰، دوه څلویښتو کورنیو هرې یوې سره ۱۳ زره ۵۸۰ او ۲۶ نور کورنیو هرې یوې سره ۱۶ زره ۹۷۵ افغانۍ مرسته وشوه.**

## افزایش محدودیت‌ها در برابر مهاجران افغان در پاکستان و ایران

طلوع نیوز

**مهاجران افغان در ایران نیز از افزایش محدودیت‌ها انتقاد کرده و افزوده‌اند که در برخی موارد، حتا با داشتن اسناد قانونی بازداشت و اخراج می‌شوند**



شماری از مهاجران افغان در پاکستان به طلوع‌نیوز گفته‌اند که تظاهرات و بی‌ثباتی‌های پسین در این کشور به چالش بزرگی برای آنان مبدل شده است.

این مهاجران افزوده‌اند که محدودیت‌ها بر مهاجران افغان در این کشور افزایش یافته و برخی از نزدیکان شان با این‌که اسناد قانونی دارند، از سوی پولیس پاکستان بازداشت شده‌اند.

به گفته آنان، مهاجران افغان در این شب و روز از ترس بازداشت و بدرفتاری، نمی‌توانند از خانه‌های خود بیرون شوند.

عتیق‌الله منصور مهاجر افغان در پاکستان به طلوع‌نیوز گفت: «خوف و هراس بین افغان‌ها وجود دارد. افغان‌ها فعلا در بعضی مناطق راولپندی و اسلام‌آباد از خانه‌های شان بیرون آمده نمی‌توانند. سلسله گرفتاری‌ها و تلاشی خانه به خانه وجود دارد«.

هم‌زمان برخی از مهاجران افغان در ایران نیز از افزایش محدودیت‌ها انتقاد کرده و افزوده‌اند که در برخی موارد، حتا با داشتن اسناد قانونی بازداشت و اخراج می‌شوند.

محمداکبر سلطانی مهاجر افغان در ایران گفت: «چند نفری را که من می‌شناسم، در آخر این ماه آن‌ها را با پاسپورت‌های شان ردمرز کرده. روز پیش به بار سوم بود که به کرمان آمدند و برخی را اخراج کردند«.

محمدرضا یکی دیگر از مهاجران افغان در ایران می‌گوید: «یکی از افغان‌های که در این‌جا نانوایی دارد، با وجودی‌که پاسپورت هم دارد، بازداشت شده بود و بعد از دوازده ساعت رها شد و نمونه‌های مثل این زیاد است«.

این در حالی‌ست سرپرست وزارت مهاجران و عودت کنندگان روز پیش (سه‌شنبه) در مراسمی در کابل از بدرفتاری‌ها با مهاجران افغان در کشورها از جمله همسایه‌ها انتقاد کرده و از مقام‌های آن کشور خواست که از بدرفتاری با مهاجران افغان دست بردارند.

جمعه‌خان پویا فعال حقوق مهاجران به طلوع‌نیوز گفت: «یک رویه حقوقی پذیرفته شده وجود دارد که بر اساس همین رویه حقوقی، حتا کشورهای که تا کنون عضو کنوانسیون ژنو نیستند، کشورهای مثل پاکستان و یا هر کشوری که عضو کنوانسیون ژنو نیست، بازهم مکلف به رعایت مفادات این کنوانسیون هستند«.

پیش از این سازمان بین‌المللی مهاجرت در گزارش ماه سپتامبر گفته بود که نزدیک به ۲۴۰هزار مهاجر افغان در سپتمبر از ایران به افغانستان برگشته‌اند .بر بنیاد این گزارش، ۴۳ درصد آنان از سوی مقام‌های ایرانی اخراج و متباقی به‌گونه داوطلبانه به افغانستان برگشته‌اند.

## تخار ولایت کې ۱۷۵ کورنیو سره مرسته وشوه

د وزارت ویب سایت



د تلې په ۱۷ مه نېټه تخار ولایت کې له ۱۷۵ راستنو شویو کورنیو سره نغدي مرسته وشوه.

یادي کورنۍ له دې وراندې د دې ولایت په اشکمش ولسوالۍ کې پېژندل شوې وې، چې د کنسرن موسسې له لوري ۱۰۰ کورنیو ته ۱۱ زره افغانۍ او ۷۵ کورنیو ته بیا ۹ زره ۲۰ افغانۍ ورکړل شوې

## ۳۰ تن از افغانهای محبوس در پاکستان، از حبس آزاد شدند

ویب سایت سایت




۳۰ نفر از افغانهای محبوس از محابس کشور پاکستان، از قید آزاد و به تاریخ ۱۷ میزان به کشور برگشت نمودند.

به اساس معلومات آمریت سرحدی تورخم ولایت ننگرهار افراد یادشده به دلیل نداشتن اسناد قانونی مدت ۴۰ روز الی دو ماه دربند بودند که پس از رهایی توسط پولیس انترپول از طریق خط فرضی تورخم به وطن عودت و غرض کمک به سازمان بین المللی مهاجرت معرفی شدند.

قابل ذکر است که از این جمله ۱۳ تن افراد زیر سن ۱۸ سال به موسسه HARO معرفی شد.

## کم سنه کډوال په پاریس کې: له کمپونو څخه «په سیستماتیکه توګه» د مهاجرو ایستل ادامه لري

مهاجرنیوز



د المپیک لوبو له پای تر رسېدو راهیسې ګڼ شمېر کډوال چې په ډله کې یې کم سنه کسان هم دي بېرته پاریس ته راځي. خو د فرانسې پلازمېنه کې مهاجر کمپونه «په سیستماتیکه توګه «د امنیتي ځواکونو له خوا تړل کېږي. سربېره پر دې، حکومت دغو مهاجرو ته چې د کم سنه کډوالو په توګه نه دي پېژندل شوي سرپناه هم نه ورکوي.

د المپیک د لوبو پای ته رسېدل د اخراجونو د پای ته رسېدو په مانا نه دي. د کډوالو د ملاتړ سازمانونه وایي هغه مهاجر چې د المپیک لوبو له پای ته رسېدو وروسته پاریس ته راغلي دي له کمپونو څخه په سیستماتیکه توګه ایستل کېږي. پاریس کې د یوتوپیا ۵۶ سازمان همغږی کوونکې فرانسیسکا کډوال نیوز ته وایي: «دوی معمولاً پون ماري ته ځېرمه، د سېن په اوږدو کې او یا د سن مېري لامبو حوض ته نږدې خیمې وهي، خو کمپونه یې یوازې ۲۴ ساعته دوام کوي.» د بشري حقونو دغه فعاله وایي: «دمګړی یې شمېر شاوخوا ۱۰۰ تنو ته رسېږي او هر سهار د پولیسو له خوا له کمپونو څخه ایستل کېږي. وضعیت ډېر پېچلی دی«.

د رېور دو له مدای ټولنه هم دا خبره تاییدوي. د یادې ټولنې غړی انتوان دو کلېرک کډوال نیوز ته وایي» :تنکي ځوانان د شپې په شاوخوا ۹ بجو پاریس کې خیمه وهي. امنیتي ځواکونه هر سهار له استثنا پرته راځي او په ۶ بجو یې له خوبه راوېښوي. دوی نور توان نه لري«.

د مهاجر کمپونو د تړلو دغه پالیسي کومه نوې خبره نه ده: له تېر ژمي راهیسې ټول مهاجر کمپونه، په ځانګړې توګه هغه پنډغالي چې د سېن سیند تر پلونو لاندې جوړ شوي وو، د ۲۴ ساعتونو په جریان کې تړل کېدل. خو سازمانونه وایي چې دا سیاست لا هم ادامه لري.



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*



**کم سنه کډوالو ته سرپناه نه ورکول کېږي**

**د المپيک له لوبو مخکې هم په عامه ځايونو کې د خپلسرو کمپونو جوړول قانوني نه وو، خو په عمل کې به کم سنه کډوالو په عامه پارکونو کې او تر پلونو لاندې شپه تېروله او سهار به يې خپله خيمه راټولوله. آنتوان دو کلېرک وايي: «هغه وخت زموږ پوښتنه دا وه چې ايا د کانال دورک يا د سېن په اوږدو کې به د کمپونو په اړه دغه مدارا له لوبو وروسته هم ادامه ولري که نه... اوس ګورو چې نه«.**

**دمګړی نه يوازې د کمپونو جوړول منع دي، بلکې تنکيو ځوانانو ته سرپناه هم نه ورکول کېږي – خو بالغ کسان بيا د فرانسې نورو ښارونو ته استول کېږي. انتوان دو کلېرک دا يوه تراژيدي بولي: دغه کډوال د ماشومانو د ساتنې ادارې له خدمتونو څخه نه برخمن کېږي (ځکه چې د دولت له خوا د کم سنه کډوالو په توګه نه دي پېژندل شوي) او په نورو ښارونو کې هم اړوندې ادارې لکه ساس يا ۱۱۵ دوی ته ځای نه ورکوي.**

**د مهاجرو د ملاتړ سازمانونو د لومړي ځل لپاره د ۲۰۲۴ په فبرورۍ کې پر دغه وضعيت نيوکه کړې وه. هغه مهال يوتوپيا ۵۶ سازمان ويلي وو: «دا نادره ده. او غيرقانوني. [له کمپونو څخه د کډوالو] ايستل بايد د قواعدو پر اساس ترسره شي«.**

**د رېبور دو له مدای غړي انتوان دو کلېرک په خبره: «وړاندې به د پوليسو قومندانۍ هڅه کوله چې د لنډمهال لپاره د حل لاره پيدا کړي: په جمنازيمونو کې به يې کډوالو ته سرپناه ورکوله. خو اوس کم سنه کډوالو ته سرپناه نه ورکوي«.**



د پاریس له پون دو شانژ څخه ایستل شوي کډوال. انځور: یوتوپیا ۵۶

**پاریس کې د کم سنه کډوالو شمېر مخ په ډېرېدو دی**

د ۲۰۲۴ له سپتمبر راهیسې پاریس کې د هغو کم سنه کډوالو شمېر زیات شوی چې تر لوبو وروسته ببرته پلازمېنې ته راستانه شوي دي. سازمانونه وايي چې نه یوازې د پلازمېنې په مرکز بلکې د پاریس په شمال کې او په ځانګړې توګه د کلونل فابین، باربس او دلفین سېریک د مترو او ترموي ستېشنونو مخې ته هم ګڼ شمېر کډوال لیدل کېږي. رېور دو له مدای په یوه خبرپاڼه کې وايي دوو کډوالو ورته ویلي چې ټوله شپه سرګردانه وو ځکه امنیتي ځواکونو خوب ته یې نه پرېږدل.

ګومان کېږي چې په راتلونکو ورځو کې به پاریس کې د کم سنه کډوالو شمېر نور هم زیات شي. انتوان دو کلېرک وايي چې د پاریس ښاروالۍ له میاشتو راهیسې په جمنازیمونو کې نږدې ۵۰۰ کډوالو ته سرپناه برابره کړې، «خو تر کومه پورې؟«

یوتوپیا ۵۶ چې هره شپه هوټل دو ویل ډګر کې کډوالو ته د شپې لپاره د سرپناه برابرولو هڅه کوي وايي چې د حل لاره نشته. دغه سازمان زیاتوي چې تر خیمو لاندې ژوند کول سخت وو، خو تنکي ځوانانو ته یې د څو ساعتونو لپاره د استراحت زمینه برابروله.



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

د دغه سازمان همغږی کوونکې فرانسیسکا وایي چې دوی یوه شبکه لري چې کډوالو ته سرپناه ورکوي، خو اوس دغه شبکه له مهاجرو ډکه ده. هغه وایي: «کډوال د سړک پر غاړه خوب کوي او یا له چاړواکو څخه ځان پټوي. ځینې شپې سل مهاجر راځي او له موږ څخه د سرپناه غوښتنه کوي، خو موږ یوازې د درېو کسانو لپاره سرپناه لرو».

## اتریش د پناه غوښتونکو په اخراج کې د سختۍ غوښتنه کوي

مهاجرنیوز




اتریش د اروپايي اتحادیې د غړو هیوادونو د کورنیو چارو د وزیرانو د غونډې له پیل څخه مخکې د مهاجرو په اخراج کې د سختۍ غوښتنه کړېده.

د پنجشنبې په ورځ په لوکزامبورګ کې د اروپايي اتحادیې د کورنیو چارو د وزیرانو سرمشریزه دایرېږي. اتریش له یادې غونډې څخه مخکې غوښتنه کړېده چې د غیر قانوني مهاجرینو په وړاندې دې سخته تګلاره خپله شي.

د اتریش د کورنیو چارو وزیر، ګرهارد کارنر و "ویلټ" ورځپاڼې ته ویلي دي: "د پناه غوښتنې یو عادلانه او باوري سیستم یوازې د پرله پسې اخراج له لارې ممکن دی." هغه زیاته کړه چې که په اخراج مکلف مهاجر همکاري ونه کړي، نو له جدي پایلو سره به مخامخ شي، لکه د ټولنیزو خدمتونو ځنډول».

یادې ورځپاڼې د اتریش او هالنډ د یو مشترک لیک یادونه کړېده چې د اروپايي اتحادیې پر ادرس لیکل شوی دی. په دغه لیک کې یادو دواړو هیوادونو غوښتنه کړېده چې د مهاجرو د اخراج په تړاو دې د اروپايي اتحادیې د ۲۰۰۸ کال پر تګلاره دې بیا کتنه وشي .

د اتریش او هالنډ لخوا په لیک کې د دریم هېواد اتباعو په اړه یو «تغییر» غوښتل شوی دی .په لیک کې راغلي چې څوک چې په یو اروپايي هیواد کې د پاتې کیدو قانوني حق نه لري باید مسوول ونیول شي. د رویترز په خبري راپور کې راغلي چې یاد لیک د

**اروپايي اتحاديې د ۱۴ نورو غړو هيوادونو او سويس له ملاتړ څخه هم برخمن دی. په دغو ملاتړو هيوادونو کې آلمان، فرانسه او ايټاليا هم شامل بلل شوي دي.**

## اروپايي محکمه: قبرس د دوو مهاجرو حق نقض کړی دی

مهاجرنيوز




**د بشري حقونو لپاره د اروپايي اتحاديې محکمې قبرس په دې پړن بللی دی چې د دوو سوريايي خپلوانو د پناه غوښتنې حق يې نقض کړی دی.**

**د اروپا د بشري حقونو محکمې د سې‌شنبې په ورځ پرېکړه وکړه چې قبرس د دوو سوريايي وګړو د پناه غوښتنې حق تر پښو لاندې کړی دی. قبرس تورن و چې په فيصله کې مطرح دوو سورياېانو تر څنګ يې شاوخوا دولس نور کسان دوې ورځې په کښتۍ کې ساتلي او بيا يې لبنان ته استولي وو.**

**يادې محکمې وويل چې قبرسي چارواکو دا دوه ۴۱ کلن خپلوان چې د سوريې د ادلب ولايت وو، لبنان ته له دې پرته ستانه کړي چې د دوی د پناه غوښتنې پروسه ترسره کړي. د محکمې په وينا قبرس مخکې دا ډاډ يې نه دی ترلاسه کړی چې ايا دغه مهاجر به لبنان کې پناه غوښتنه وکړای شي که نه او يا دا چې سوريې ته به بېرته نه استول کيږي چېرې چې هغوی د ځورونې له خطر سره مخ کېدای شي.**

**محکمې په خپله فيصله کې وويل: "د يادو شويو حقايقو په رڼا کې محکمه په دې باور ده چې په دې قضيه کې قبرسي چارواکو پرته له دې چې د دغو کسانو د پناه غوښتنې پروسه ترسره کړي، هغوی لبنان ته ستانه کړي دي او د پناه غوښتنې قانون لاندې ټول اړين ګامونه يې نه دي اخيستي".**

"د پام وړ فشار او د سپکاوي احساسات"

محکمې دا هم وموندله چې قبرسي چارواکو د دغو کسانو لپاره "د پام وړ فشار او د سپکاوي احساسات" رامنځته کړي، ځکه چې دوی ته مناسبه غذا او اوبه نه وې ورکړل شوې او هغوی مجبور وو چې په کښتۍ کې د دوو ورځو لپاره پرته له مناسبو روغتیایي اسانتیاوو ژوند وکړي.

قبرسي سمندري پولیسو کښتۍ وروسته له هغه نیولې وه چې دا د ۲۰۲۰ کال په سپتمبر کې له لبنان څخه د قبرس سمندري اوبو ته راغلې وه. یو ژباړونکي مسافرو ته وویل، چې پکې سوریایي او لبناني خلک شامل وو، چې دوی ته به اجازه ورنکړل شي چې قبرس ته داخل شي او باید لبنان ته بېرته ولاړ شي که نه نو دوی به بېرته اخراج شي.

مسافرو وروسته په بله قبرسي کښتۍ کې سپاره شول چې هغوی يې بېرته لبنان ته یووړل. د محکمې موندنې ښيي چې مهاجرو قبرسي چارواکو ته ویلي وو چې دوی غواړي پناه غوښتنه وکړي ځکه چې د سوریې جګړې کې يې کور ویجاړ شوی و او د دوی کورنۍ او ماشومان پاملرنې ته اړتیا لري.

قبرسي چارواکو دا رد کړې چې دغو مهاجرو چې څلور کاله يې په لبنان کې په یوه کډوالی کمپ کې تیر کړي وو کله هم د پناه غوښتنې غوښتنه کړې وي.

د ۲۲۰۰۰ یورو تاوان

محکمې دا هم وویل چې د قبرسي حکومت دا ادعا چې دغه مهاجر لبنان ته د یو دوه اړخیز تړون له مخې استول شوي وو، چې د هغه چا بیرته استولو ته اجازه ورکوي چې په غیرقانوني توګه قبرس ته داخل شي "بې له کوم رسمي اسنادو"، قبرس د بشري حقونو د کنوانسیون لاندې له خپلو مسوولیتونو څخه نه شي معاف کولی، په ځانګړې توګه د دې په رڼا کې چې لبنان له شاوخوا ۱،۵ میلیونه کډوالو سره د مرستې په برخه کې ستونزې لري.

محکمې قبرس ته امر وکړ چې هر پناه غوښتونکي ته ۲۲۰۰۰ یورو (۲۴۱۵۰ ډالر) د تاوان په توګه ورکړي او همدارنګه ۴۷۰۰ یورو (۵۱۶۰ ډالر) په ګډه د لګښتونو او خرڅونو لپاره ورکړي.

د دې پریکړې په اړه د نظر غوښتنې په ځواب کې د قبرس د کډوالۍ او نړیوالې ساتنې مرستیال وزارت وویل چې که څه هم د دې قضیې پېښې څلور کاله مخکې شوې دي، خو لاهم په دې اړه څېړنې رواني دي چې "دغه پېښې څرنګه رامنځته شوې وې".

تېره میاشت، د بشري حقونو د څار ډلې په یوه راپور کې وویل چې له لبنان سره د سمندر له لارې د مهاجرت د تنظیمولو لپاره د اروپا مرستې هغه کړنې تمویلوي چې د بشري حقونو خلاف دي.

## یونان: د اونۍ په پای کې تر ۲۳۰ زیات کډوال کریټ ټاپو ته رسېدلي دي

مهاجرنیوز




**د یونان چارواکي وايي چې د تېرې اونۍ په پای کې له ۲۳۰ څخه زیات کډوال د مدیترانې له لارې په کوچنیو کښتیو کې کرېت ټاپو ته رسېدلي دي. په ورته مهال د کډوالو یوه بله ډله چې د اژې سمندر له لارې کس ټاپو ته د اوښتو هڅه درلوده د سمندري ځواکونو له خوا ژغورل شوې ده .**

**یوناني چارواکي وايي چې د تېرې اونۍ په پای کې له ۲۳۰ څخه زیاتو کډوالو د مدیترانې له لارې په وړو کښتیو کې ځانونه کرېت ټاپو ته رسولي دي. دغه کډوال په شپږو کښتیو کې سپاره ول او له شمالي افریقا څخه یې د یونان پر لور حرکت کړی و .**


**د ساحلي ځواکونو په وینا، د اونۍ په پای کې کرېت ته رسېدلي کډوال د مصر، سوډان او بنګله دېش وګړي دي .**

**چارواکي زیاتوي چې د کډوالو تر ټولو ډله چې کښتۍ یې د یکشنبې په ورځ په سمندر کې له ستونزې سره مخ شوې وه د یوې سوداګریزې کښتۍ له خوا وژغورل شوه. دغه کښتۍ کې ۵۵ مهاجر سپاره ول .**

**کرېت او ګاوډی یې ګاودوس د یونان هغه ټاپوګان دي چې د روان کال له پیل راهیسې د اوښتونکو کډوالو له نوو څپو سره مخ دي.**

**د یونان محافظه کار حکومت د روان کال په اپریل میاشت کې له کرېت او ګاودوس ټاپوګانو سره د مالي او بشري مرستو ژمنه وکړه. چارواکو وویل په پام کې لري چې په کرېت کې د کډوالو یو مرکز جوړ کړي چې د مهاجرو دوسیې به پکې وارزول شي .**

**کډوال له لیبیا څخه یونان ته د رسېدو لپاره لږترلږه دوه ورځې په سمندر کې تېروي. خو ترکیه بیا له یوناني ټاپوګانو سره یو ساعت فاصله لري، په دې شرط چې کډوال د پولیسو له ګزمې سره مخ نه شي .**




کریت د یونان او ترکیې ترمنځ اوبو کې موقعیت لري. انځور: ګوګل مېپ

**د ۲۵ کډوالو ژغورنه**

د یو بل خبر له مخې، د یونان کس ټاپو ته نږدې د تېرې جمعې په شپه د کډوالو یوې تېزرفتاره بېړۍ د ساحلي ځواکونو له کښتۍ څخه ټکر وکړ.

د ساحلي ځواکونو په یوه اعلامیه کې راغلي دي چې دغې ربړي بېړۍ «په قصدي ډول «د چارواکو له کښتۍ سره ټکر وکړ چې له امله یې ټول مهاجر اوبو ته وغورځېدل .

د اعلامیې له مخې، ساحلي ځواکونو له دې کښتۍ څخه د یوې نجلۍ په ګډون چې بې هوښه شوې وه ۲۵ کډوال ژغورلي دي. یاده مهاجره د چارواکو په هڅو په هوښ راغله او تېزرفتاره بېړۍ له ټکر وروسته ډوبه شوه. د کس بندر چارواکو د یادې پېښې په اړه تحقیقات پیل کړي دي .

له تېرو څو کلونو راهیسې زیات شمېر کډوال هڅه کوي چې د اژې سمندر له لارې له ترکیې څخه ځانونه یوناني ټاپوګانو ته ورسوي. پر یوناني ځواکونو تور دی چې له کډوالو سره ناسم چلند کوي او د مهاجرو کښتۍ له خپلې پولې څخه په شا تمبوي.

د ملګرو ملتونو د رسمي شمېرو له مخې، د روان کال له پیل راهیسې څه باندې ۳۰ زره کډوال له ترکیې او لیبیا څخه یونان ته اوښتي دي. ډېری دغه کډوال د افغانستان، سوریې او یا د مصر وګړي دي.

## 3مهاجر غیر قانونی در سواحل یونان غرق شدند

صدای ترکیه

**5نفر که به ساحل شنا کردند گزارش دادند که 33 مسافر در قایق بودند**



**در یونان 3 نفر بر اثر غرق شدن قایق حامل مهاجران غیرقانونی جان خود را از دست دادند.**

**بر اساس اخبار تلویزیون دولتی ERT یونان، یک قایق بادی حامل مهاجران غیرقانونی در سواحل جزیره ساموس به دلیل نامشخصی غرق شد.**

**5نفر که به ساحل شنا کردند گزارش دادند که 33 مسافر در قایق بودند.**

**واحدهای گارد ساحلی یونان جسد 3 نفر را در دریا پیدا کردند.**

**هنوز 25 مهاجر دیگر که گفته می شود در قایق بودند یافته نشده اند.**